# شتمني
# SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

شنبه| د صفرالمظفر ۲۷-۱٤٤٦ال س/ د وږي ۱۰-۱٤۰۳ال ل/ د اگسټ ۳۱-۲۰۲٤ز/ځلورم کال / ۱۱۳ گڼه/ ٤ مخیزه




**دحديث شريف ژباړه:**
له حضرت ابو هريره {رض} څخه روايت دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تر ټولو بد خلك چي تاسي به د قيامت په ورځ ورسره مخ سئ، هغه وي چي له خلكو سره دوه مخی چلند كوي، يعني ځينو ته په يوه ډول او ځينو ته په بل ډول ځان ښوودنه كوي؛ تر څو وكولای سي د هغوی د خپلوی اړيكي خرابي كړي. متفق عليه

**ترجمه حديث شريف:**
از حضرت ابوهريرة {رض} روايت شده است كه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمودند: شما در روز قيامت بدترين مردم كسی را خواهيد يافت كه نزد مردم دو رويی می كنند. يعنی نزد بعضی به يک شكل و نزد بعضی به شكل ديگری تبارز می كنند و گفته های متفاوت را ابراز می كند تا روابط حسنه و دوستانه آنها را برهم بزند. متفق عليه

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سر مقاله

### نقش تامین مالی در انکشاف قریه جات افغانستان

در سالیان اخیر تامین مالی کوچك به عنوان رای حل مناسب جهت مقابله با فقر در قریه جات مطرح میشود. از آن جایکه افغانستان یك کشور توسعه نیافته است و بیشتر مردم افغانستان دهات نشین هستند، نقش تامین مالی را در راستایی محوه نمودن چالشهای اقتصادی قریه جات به خصوص افراد با درآمد پایین مانند صنعت کاران، دهاقین و غیره می توان نهایت مثبت تعریف نمود. باید گفت کشورهای توسعه نیافته بیشتر تحت تاثیر اقتصاد قریه جات و محصولات زراعتی آنها قرار دارد، بگونه که تامین مالی و سرمایه گذاری بیشتر میتواند محصولات زراعتی و تولیدات آنها را افزایش داده، باعث خود کفایی در محصولات غذایی خواهد گردید. علاوه بر افزایش محصولات، این تامینات میتواند باعث افزایش درآمد ساکنین قریه جات و افزایش تقاضا برای کالاها، حمل و نقل و مخابرات نیز گردند. اینکه در حال حاضر سطح تحصیل، تخصص و مهارت های مسلکی در قریه جات افغانستان به سطح پایین قرار داشته، تامینات مالی در بخش مرتبط بیشتر میتواند راهی حل باشد تا آموزش مهارت های شغلی و شیوه های نوین زراعت و مالداری به آن مشکلات رسیدگی گردد. در کل باید گفت تامین مالی یکی از عوامل اساسی در انکشاف و توسعه قریه‌جات و مناطق دور دست افغانستان پنداشته میشود. تامین مالی می‌تواند به احداث و بهبود زیرساخت‌های مهمی مانند جاده‌ها، آب، برق، مخابرات و سایر زیرساخت‌های اساسی کمك کند. این اقدامات باعث ارتقای شرایط زندگی مردم و افزایش فرصت‌های اقتصادی در مناطق روستایی می‌شود. سرمایه‌گذاری در صنایع محلی و تشویق کسب و کارهای کوچك و متوسط می‌تواند به ایجاد اشتغال و توسعه اقتصادی در قریه‌ها کمك کند. تامین مالی می‌تواند به دهاقین و مالداران در خرید تجهیزات زراعتی و تحقق اهداف زراعتی کمك کند. همچنان این امر در زمینه‌های آموزش و صحت می‌تواند به ارتقاء سطح دانش و سلامتی مردم در قریه‌جات کمك نموده و باعث ایجاد تسهیلات توریستی، ترقی تجارت محلی و توسعه صنایع دستی شده و منطقه را برای توریستان جذاب‌تر جلوه دهد و درآمدی پایدار برای مردم باشد. به طور کلی، تامین مالی به عنوان یکی از عوامل اساسی انکشاف قریه‌جات و مناطق دور دست افغانستان منجر به توسعه اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی این مناطق می گردد. از طرفی تامین مالی برای انکشاف قریه جات و مناطق دور دست می‌تواند با چالش‌های مختلفی نیز روبرو شود، زیرا در بسیاری از مناطق دور دست، دسترسی به منابع مالی و اعتبارات بانکی محدود بوده و می‌تواند فرایند تامین مالی برای پروژه‌های انکشافی مشکل ساز باشد. عدم وجود مکانیسم‌های مالی مؤثر می‌تواند باعث کاهش توانایی تامین مالی برای پروژه‌های انکشافی در روستاها شود. به منظور حل این چالش‌ها، نیاز به همکاری بین دولت، بخش خصوصی، سازمان‌های غیرانتفاعی و جوامع محلی و همچنین ایجاد سیاست‌ها و برنامه‌های مالی مناسب برای انکشاف قریه‌جات و مناطق دور دست است، ولی خوشبختانه باید گفت که در حال حاضر امارت اسلامی با توجه به حساسیت موضوع همواره تلاش نموده تا تامینات مالی خویش را در سراسر کشور به خصوص قریه جات و مناطق دور دست کشور که در اثر جنگ ها در کشور تخریب گردیده و از هیچ گونه تامین مالی مستفید نگردیده و با چالش های اقتصادی فراوان رو به رو شده اند فراهم ساخته است تا باشد که به توسعه اقتصادی موثری دست یابند.

**با احترام**
**اداره**


# په یو شمېر گمرکونو کي د (۱۰.۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د گمرکي تلو د ترمیم چاري پیل سوي



- د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست په **۴** گمرکونو کي د تلو د ترميم چاري پيلوي.
- د لوړ ټنېج/ تناژ تلي د اسلامي امارت له بيا ځلي حاکميت څخه وړاندي په غير معياري ډول نصب سوي وې.
- ماليې وزارت د تلو د ترميم په مقصد له خپلي پراختيايي بوديجې څخه (۱۰.۵) ميليونه افغانۍ تخصيص کړي دي.

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست سوداگرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو او د گمرکي طی مراحلو د لا چټکتيا په موخه د کابل، شېرخان بندر، ابو نصر فراهي او پکتيکا په گمرکونو کي د څلورو پايو لوړ تناژ لرونکو تلو د بيارغوني چاري د (۱۰.۵) ميليونه افغانيو په ارزښت پيل کړې. يادي تلي د اسلامي امارت له بيا ځلي حاکميت څخه وړاندي په غير معياري ډول نصب سوي وې، چي اکثره وخت به ئې تخنيکي ستونزي پيدا کولې او گمرکي چاري ئې له ځنډ سره مخ کولې. د دغو تلو په بيا فعالولو او رغولو سره به په ورته برخه کي د سوداگرو ستونزي حل سي. د يادوني وړ ده، چي د يادو تلو د بيارغولو لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي، چي په دوه نيمو مياشتو کي به بيرته ورغول سي او گټې اخيستني ته به وسپارل سي.

# د خوست ولایت په محصولي گمرک کي د اور وژني (۱۲) پایې فعاله سوې



د خوست ولايت د اور وژني مديريت د منسوبينو په همکارۍ د دغه ولايت په محصولي گمرك کي د اور وژني له پاره (۱۲) نصب سوي پايې، چي له ډېري مودې راهيسي له کاره لوېدلي او غير فعالي وې، بيرته فعالي او گټې اخيستني ته وسپارل سوې. د يادو پايو د فعالېدو سربېره، د دې گمرك کارکوونکو ته د اور وژني عملي زده کړي هم ورکړل سوې، چي اوسمهال ياد کارکوونکي د اور وژني د مهارولو او مخنيوي لپاره په بشپړ ډول چمتو دي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د هيواد په ټولو گمرکونو کي د سوداگريزو توکو او گمرکي تأسيساتو خونديتوب ته لومړيتوب ورکوي او هڅه ئې کړي ده، چي په دې برخه کي ټول اړين امکانات اړوندو کارکوونکو ته چمتو کړي.



د هيواد په ۴ گمرکونو کي د لوړ تناژ اخيستلو انلوگ تلي نصبېږي

م ۲



د هيواد په گمرکونو کي د بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه عملاً روانه ده

م ۲




سمینار آگاهی عامه در رابطه به پروسه مالیاتی برای مسئولین پوهنتون های خصوصی دایر گردید

م ۲




د ډند پټان گمرک کارکوونکو ته (۱۵) ورځنی روزنیز پروگرام پیل سو

م ۲



رعایت اصول تدارکات سبز در مراحل تدارکاتی پروژه ها

م ۳




اروپايي اتحاديې د افغانستان لپاره (۱۳) میلیونه یورو مرسته اعلان کړه

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

## د تشخیصي نمبر (TIN) مرکزي آمریت د چنګاښ میاشتي لاسته راوړني




د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د سیستمونو ریاست اړوند د تشخیصي نمبر (TIN) مرکزي آمریت په تېره سرطان میاشت کې د پام وړ لاسته راوړني لري، چې له دې جملې څخه ئې په ټول هیواد کې (۴٦۸۲٦) تنو او په مرکز کې (۵۴۰٦) تنو ته د تشخیصي نمبر له تائید وروسته وېشلي دي. د دې ترڅنګ په مرکز کې (۳۵۳) نوي بنسټونه ثبت او په (۳۹۵) بنسټونو کې بدلونونه راغلي دي. همداراز (۱۲) بنسټونه په نوي سیګتاس سیستم کې ثبت او (۴۷) نور بنسټونه حکمي بڼي ته تبدیل سوي دي. د یادوني وړده، چې د تشخیصي نمبر (۷۵) تکراري شمېرې کنټرول او د له منځه وړلو لپاره ئې اړوند پړاوونه ترسره سوي دي.

## د تورخم په ګمرک کې جعلي نکاح خطونه او لایسنسونه ونیول سول



د تورخم ګمرک د تشریح برخې کارکوونکو په یوه وارداتي سوداګریزه محموله کې، چې سوداګریز توکي پکښې بار ول، یو شمېر جعلي نکاح خطونه او د موټر چلولو لایسنسونه نیولي دي. په نیول سوو جعلي سندونو کې، چې په ډېر مهارت سره په یاده محموله کې ځای پر ځای سوي ول؛ (۲۰۲) جلده جعلي نکاح خطونه، (۴) جلده کورني او (۴) جلده بهرني د موټر چلولو جعلي لایسنسونه او (۵٦) عدده کورني بېلابېل نښانونه شامل دي، چې په پټه له پاکستان څخه افغانستان ته راوړل کېدل. د یادوني وړ ده، چې اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کې له قاچاقي او ممنوعه توکو څخه په کلکه څارنه کېږي او هیڅ چاته اجازه نه ورکول کېږي، چې یاد توکي صادر او یا وارید کړي.

# د هیواد په ۴ ګمرکونو کې د لوړ تناژ اخیستلو انلوګ تلي نصبېږي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د هرات، نیمروز، بلخ او آقینې په ګمرکونو کې د (۲۵.۲) میلیونه افغانیو په ارزښت د شپږ پایو لوړ تڼېج (تناژ) لرونکو انلوګ تلو د نصبولو چاري رواني دي. د دغو تلو له جملې څخه دوې پایې د هرات، دوې پایې د بلخ او یوه یوه پایه د نیمروز او آقینې په ګمرکونو کې نصبېږي، چې په فعالېدو سره به ئې د سوداګریزو توکو په طی مراحلو کې لا چټکتیا او روڼتیا رامنځته سي او د ملي عوایدو له ضایع کېدو څخه د مخنیوي ترڅنګ به پر نویو جوړو سویو سړکونو د زیات وزن لرونکو موټرونو مخنیوی هم وسي. د یادوني وړ ده، چې د یادو تلو ټول لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي، چې رغنیزي چاري به ئې په نیږدې راتلوونکي کې بشپړې سي.



## د هیواد په ګمرکونو کې د بې اسناده موټرونو د ثبت او محصول پروسه عملاً روانه ده

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د پرېکړې او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له حکم سره سم، د افغانستان لاس (یو کیلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه د روان کال تر پایه تمدید او کار ئې د هیواد په ګمرکونو کې په عملي ډول روان دئ. د یادي پروسې د چټکتیا په موخه د کاري واحد په نامه د مرکزونو په ګډون ګڼ شمېر اسانتیاوي رامنځته او ټولي پروسې تر یوه چتر لاندي ترسره کېږي. همدارنګه د افغانستان لاس (یو کیلي) موټرونو د ثبت او محصول په پروسه کې د خلکو اقتصادي وضعیت هم په پام کې نیول سوی؛ تر څو د بې اسناده موټرونو مالکان په اسانۍ سره خپل وسایط محصول کړي. د مالیې وزارت یو ځل بیا د بې اسناده موټرونو له مالکینو څخه غوښتنه کوي، چې له دغه فرصت څخه په ګټه اخیستني سره خپلو موټرونو ته قانوني اسناد ترلاسه کړي؛ تر څو هم د امنیتي پېښو او هم د عوایدو له تېښتي مخنیوی وسي.



## سمینار آگاهی عامه در رابطه به پروسه مالیاتی برای مسئولین پوهنتون های خصوصی دایر گردید

ریاست عمومی عواید وزارت مالیه سمینار آگاهی عامه یک روزه در رابطه اقسام مالیاتی، نورم ها و مشکلات سکتور خصوصی در پروسه مالیاتی، برای مسئولین پوهنتون های خصوصی در اکادمی ملی عواید و گمرکات دایر نمود. این سمینار به منظور آگاهی دهی، افهام و تفهیم میان ادارات مالیه دهندگان برگزار گردیده تا آنها مکلفیت های خود را درک کرده و در ایجاد شفافیت و جلوگیری از فرار عواید با ادارات مالیاتی همکاری نمایند. در این سمینار پریزنتیشن معلوماتی در رابطه به مالیات، انواع مالیات، پروسه مالیاتی، طرزالعمل ها، نورم های مالیاتی، لوایح، اظهارنامه و اهداف این ریاست به اشتراک کنندگان ارائه و به سوالات آنان پاسخ داده شد.



## د ډند پټان ګمرک کارکوونکو ته (۱۵) ورځنۍ روزنیز پروګرام پیل سو




د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له تدریسي پلان سره سم، د ساحوي روزنیزو پروګرامونو په لړ کې د پکتیا ولایت د ډند پټان ګمرک کارکوونکو ته د ګمرکي مسایلو په تړاو روزنیز پروګرام پیل سو. په دغه (۱۵) ورځنۍ روزنیز پروګرام کې د مجربو ښوونکو له لوري، کارکوونکو ته د ګمرکونو د قانون، ګمرکي کړنلارو، ګمرکي بیې ټاکنې، تعرفې او اړوندو نورو برخو کې روزنه ورکول کېږي. همداراز به کارکوونکو ته د نظري زده کړو تر څنګ عملي زده کړې هم ورکول سي.

## د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د مالیې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکو د فعالو هڅو په پایله کې تېره اوونۍ د نیمروز، فراه، کندهار، هرات او ننګرهار ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کې (۱۲۴۲۵) کیلو ګرامه مالګه، (۷۵٦۸) کیلو ګرامه رُب، (۲۵۱۰) کیلو ګرامه غوړي، (۱۱۲۸) کیلو ګرامه چاکلېټ، (٦۲۵) کیلو ګرامه انساني او حیواني درمل، (٦۲۰) لېټره زراعتي درمل، (۵۷۰) کیلو ګرامه ککاو، (۱٦۵) کارټنه تاریخ تېر جوسونه، (۳٦۰) کیلو ګرامه لوبیا، (۳۷۲) کیلو ګرامه شامپو او (۵۰۴) کیلو ګرامه مۍ (ماش) شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو په موخه اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# رعایت اصول تدارکات سبز در مراحل تدارکاتی پروژه ها

عبدالبصیر عمرشاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

**مقدمه**

تدارکات سبز ابزار مهمی برای دستیابی به اهداف سیاست زیست محیطی مرتبط با تغییرات آب و هوایی، استفاده از منابع و مصرف و تولید پایدار است. (Buying Green, ۲۰۱٦) تدارکات سبز یعنی مجموع فرآیندهایی که باعث کاهش تولید گازهای گلخانه‌ای، اجرای فرآیندهای عملیاتی پایدارتر و کاهش آلودگی محیط زیست می‌شود می‌گویند. در حال حاضر اوضاع محیط زیست اصلا" خوب نیست و چیزی که شرکت‌ها را از همدیگر متفاوت میکند همین اقدامات مختلف برای بهبود محیط زیست است. یک استراتیژی درست و مدون، باعث می‌شود تا علاوه بر سازگاری شرکت با محیط زیست، یک سود بسیار مناسب نیز برای آن برند به ارمغان بیاید. این استراتیژی‌ها باعث بهبود عملکرد و فرآیندهای شرکت شده و همچنین به دلیل پرداختن به موضوع محیط زیست بدون شک باعث بهبود اعتبار برند خود خواهند شد. از این که تدارکات یک بخش مهم فعالیت های اقتصادی یک اداره و حتی یک دولت را تشکیل میدهد و به حیث یک علم پیچیده و گسترده در مدیریت درست بودجه و تقویت وضعیت اقتصادی اداره نقش بسزایی دارد، همچنان پرداختن به بحث کامل تدارکات سبز وقت، دقت، تحقیق و کار زیادی میخواهد، بنا بر این درین بخش به طور کوتاه بالای اصول تدارکات سبز که با تطبیق آن میتوان به محیط زیست و تنوع زیستی کمک زیادی کرد مختصراً معلومات میدهیم. اصول تدارکات سبز عبارت اند از: کاهش مصرف انرژی، کاهش ضایعات، استفاده از مواد پایدار، کاهش انتشار گازهای گلخانه‌ای و کاهش مصرف آب.

**مصرف انرژی را میتوان با رعایت نکات زیر انجام داد:**

۱. استفاده از منابع انرژی تجدیدپذیر.
۲. بهینه‌سازی مصرف انرژی در زنجیره تأمین.
۳. استفاده از فناوری‌های هوشمند.
٤. تأمین نور و گرمایش کارآمد.
۵. آموزش و آگاهی‌بخشی.

**کاهش ضایعات را میتوان از طریق تدارکات سبز با عملی کردن نکات زیر تطبیق کرد:**

۱. انتخاب محصولات با عمر طولانی.
۲. استفاده از بسته‌بندی‌های کم‌حجم و قابل بازیافت.
۳. خرید محصولات قابل بازیافت و بازسازی.
٤. کاهش مصرف کاغذ.
۵. مدیریت درست زباله‌ها.
٦. تشویق به استفاده مجدد از محصولات.
۷. تدوین خط مشی‌های تدارکات سبز.
۸. انجام ارزیابی زیست‌محیطی.

**تدارکات سبز را همچنان میتوان با استفاده از مواد پایدار ذیلاً انجام داد:**

۱. انتخاب مواد تجدیدپذیر.
۲. مواد بازیافتی و قابل بازیافت.
۳. کاهش استفاده از مواد کیمیایی مضر.
٤. استفاده از مواد با عمر طولانی.
۵. استفاده از مواد محلی و بومی.
٦. انتخاب مواد با کمترین ردپای کاربنی.
۷. آموزش و آگاهی‌بخشی.
۸. تدوین سیاست‌های تدارکات سبز.



**همچنان تدارکات سبز باعث کاهش انتشار گاز های گلخانه ای میشود که میتواند از طریق تعقیب قدمه های زیر صورت گیرد:**

۱. انتخاب محصولات با مصرف انرژی کمتر.
۲. ترویج استفاده از انرژی‌های تجدیدپذیر.
۳. کاهش انتشار در زنجیره تأمین.
٤. بهینه‌سازی حمل‌ونقل.
۵. استفاده از مواد پایدار و کم‌کاربن.
٦. بهینه‌سازی فرایندهای تولید و عملیات.
۷. اجرای برنامه‌های جبران کاربن.
۸. آموزش و آگاهی‌بخشی.
۹. اندازه‌گیری و گزارش‌دهی انتشار گازهای گلخانه‌ای.

**کاهش مصرف آب نیز یکی از مولفه های ضروری تدارکات سبز است که میتوان از طریق رعایت نکات زیر به آن دست یافت:**

۱. انتخاب تجهیزات و لوازم بهینه.
۲. استفاده از فناوری‌های بازیافت آب.
۳. بهینه‌سازی فرآیندهای تولید.
٤. آبیاری هوشمند و کم‌مصرف.
۵. کاهش هدررفت آب.
٦. تدوین و اجرای سیاست‌های صرفه‌جویی در مصرف آب.
۷. استفاده از مواد و محصولات کم‌مصرف آب.
۸. اندازه‌گیری و نظارت مصرف آب.
۹. استفاده از آب‌های غیرقابل نوش.

ادامه در شماره بعدی


# اعلانات داوطلبی

**دعوت به داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء(تدارک اجناس تکنالوژی ریاست عمومی خزاین وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه (۷۹۵-G/ ۱٤۰۳/MOF) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری، همچنان از سایت ریاست تدارکات ملی و از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۸/ سنبله/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۹/ سنبله /۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ: ٤۸۰۰۰ (چهل وهشت هزار) افغانی می باشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۲۹۲

**د داوطلبۍ خبرتیا**

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د ولايتي مستوفيتونو د اړتيا وړ د ۴۵ عرادې موټر سايکلونو د تدارک) په پروژه کې چې تشخيصيه نمبر ئې (۷۹۲-G/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لارې د شرطپاڼې له شرايطو او د تداركاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.
د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه: د (سنبلې/ ۲۱ / ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د (ميزان/ ۲ /۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: سل زره (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ
ځای: د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رياست، د تداركاتو ملي اداري رسمي ويب سايټ.
په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

**اعلان داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داو طلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تهیه و نصب ۱۷ پایه ذخیره تیل برای گمرک ها) دارای نمبر تشخیصیه ۷٤٤-W/۱٤۰۳/MOF که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۲۰/ سنبله/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ میزان/۱٤۰۳ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۲۵۰،۰۰۰ (دو صدو پنجاه هزار) افغانی میباشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

**اعلان داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژهء(حفر دو حلقه چاه عمیق در محوطه ریاست عمومی املاک دولتی و ریاست عمومی سهمیه تقاعد) دارای نمبرتشخیصیه ۷۹۱-W/۱٤۰۳/MOF که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۲۲/ سنبله/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۳/ میزان/۱٤۰۳ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ٦۰،۰۰۰ (شصت هزار) افغانی میباشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

**د داوطلبۍ خبرتیا**

د ماليې وزارت د داوطلبي املاکو لوی رياست، غواړي چې د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيه اړوند سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ لومړي پوړ کې يو باب (۱۸) نمبر غرفه چې (۱۱.٦۱) متره مربع مساحت لري چې مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۱۰۱۵۰) افغانۍ ده او د ۳ کلونو لپاره ئې په کرايه ورکوي. هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورتني ذکر سوی دوکان په کرايه ونيسي کولای سي چې خپل غوښتنليکونه د ( وږی /۴ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (وږی /۲۴ /۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپانه ترلاسه کړي.
آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مديريت.
د داوطلبۍ مجلس: د (وږی/۲۵ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۹:۰۰ بجې ترسره کېږي.
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



## Torkham Customs Staff of CIDs Seizes Fake Documents Forms of 'Marriage Certificates, Licenses'

The staff of CIDs (Commercial Item Descriptions) of Torkham Customs has seized scores of fake marriage certificates and driving licenses in an imported commercial shipment, which was loaded with commercial goods.



Among the seized fake documents that have been skillfully embedded in the shipment, it includes 202 fake forms of marriage certificates, four domestic and four foreign fake driving licenses, and 56 different domestic logo-style stickers, which smuggler planned to secretly bring the aforementioned fake documents from Pakistan to Afghanistan. Notably, all the customs of Afghanistan strictly monitor contrabands and prohibited goods and no one is allowed to export or import illicit.

## General Directorate of Customs Repairs High-tonnage 'Weighing Scales' Worth 10.5 mln Afs in 4 Provinces

The General Directorate of Customs of MoF has commenced the repairing of four high-tonnage 'weighing scales' worth 10.5 million Afs, in order to create more facilities for traders and to speed up the customs procedures at the customs of Kabul, Sher Khan Bandar, Abu Nasr Farahi and Paktika in different provinces. Weighing scales had been installed in a non-standard way before the re-establishment of

> General Directorate of Customs ramps up efforts for bringing all weighing scales back to life that fallen into desuetude.
> The process of repairing will consume less than three-month period.
> Recovering expense is paid all about from development budget of MoF.

IEA, which often caused technical problems and delayed customs affairs. The General Directorate of Customs now assures that the aftermath will be positive after the repairing in installation and recovery process. It is worth noting that the cost of repairing of the weighing scales will be paid from the development budget of MoF, which will be recovered and handed over to the beneficiary within two and a half months, as officials affirmed.




## اروپايي اتحادیې د افغانستان لپاره (۱۳) میلیونه یورو مرسته اعلان کړه



د ماشومانو لـه پـاره د ملګـرو ملتونـو نړیـوال صنـدوق یـا یونیسـیف ـ UNICEF پـر خپـل ویبسایټ د یوې اعلامیې پـه خپرولو سره ویلي دي، چې په افغانستان کې به له (۷۸,۰۰۰) څخه ډېر کوچنیان د اروپايي اتحادیې د ملکي ساتنې او بشري مرستو له عملیاتو - ECHO څخه په بېړني حالت کې د تغذیې او زده کړې له پاره له دې ډول اضافه مالي ملاتړ څخه ګټه واخلي.

په دې اعلامیه کې د دې (۱۳) میلیونو یورو د مصرفولو په اړه ویل سوي دي، چې: «په دې پیسو به (٦۲,۰۰۰) کارتڼه درمل اخلي، روغتیايي کار کوونکي به روزي او هم به ئې له لارې په (۲۷۵) ټولګیو کې د زده کړو کیفیت ښه کړي، ترڅو په مرسته ئې (۹,۵۰۰) کوچنیان لومړنیو زده‌کړو ته لاسرسی پیدا کړي.» اعلامیه ورپسې زیاتوي، چې په دې لړۍ کې د ښوونکو د روزنې، د ښوونځیو د مدیریت او اړتیا وړ ټول موارد شامل دي.

په دې اړه په افغانستان کې د اروپايي اتحادیې د بشري مرستو رئیس ښاغلي فرانچوس وایي: «اروپايي اتحادیه به د یونیسیف غونډي سازمان سره د بېړنیو مرستو، ښوونې او روزنې او اړتیاوو د پوره کولو له مخې اوږه پر اوږه کار کولو ته دوام ورکړي؛ تر څو په مرسته ئې د ماشومانو راتلونکې جوړ سي.»

یونیسف له (۱۹٤۹)ز راهیسې په افغانستان کې فعالیت لري. د دې اوږده د تاریخ په درشل کې د بشري مرستو دا نړیوال سازمان د ټولو کوچنیانو لپاره د پرمختګ، هوساینې او د ودې په مقصد د نړیوالو متخصصانو او بې ساري لاسرسي له پاره ځانګړی موقف لري.

په تېرو څلورو کلونو کې د اروپايي اتحادیې بشردوستانه مرستو یونیسف ته اجازه ورکړې ده، چې د پاکو اوبو سیستمونه، د ټولنې پر بنسټ ولاړې زده کړې، د کوچنیانو ساتنه او روغتیايي خدمتونه، بېړنۍ نغدي لېږد، او د ماشومانو له پاره د درملنې چارې پرله پسې کړي.

په اعلامیه کې نه یوازې د یاد رقم مرستې، مالي ملاتړ کوونکي او د مصرفولو خبره یاده سوې ده؛ بلکې یونیسیف له اروپايي اتحادیې څخه د دې مالي ملاتړ له بابته د منندویې اظهار هم کړی دئ.




### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هېوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
( ۹۳+ ) ۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦ / ۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

شتمنې اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.